مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني

۲۰۲۰/۰۹/۲۱

# څوریدلی ولس

ورځ تر بله جنازې په اوږو کيږي
څه تنکي،چنارځوانان ترخاورو کيږي

بل څوک نه دي دا د لوی افغان بچي دي
د پردو په لمسون هره ورځ قتليږي

هره خوا لکه صدام په خوله تکبير دی
څوک نظام څوک ترهګر په نوم يادېږي

ناست قطر کې دي وطن ته سوله غواړي!
په وطن کې شپه او ورځ ولس څوريږي

دا دښمن دی دا دوکه ده بل څه نده
اوس پدې حقيقت هر افغان پوهيږي

دا چې چا مونږ په قومونو يو بيل کړي
د هغو په لمسون ګران وطن ورانيږي

د خلاصون لاره يواځې همغږي ده
افغاني په پوهه هر مشکل حليږي

--------------------------------

۲۰ - ۹ - ۲۰۲۰

م ۰ کال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ